# سمدستي ئې د ترور سره روغه وکړه

## مع خپلوانو سره د ښه سُلوك فضائل




شيخِ طريقت، أميرِ أهلسنّت، باني دعوتِ اسلامي، حضرت علّامه مولانا ابو بلال

**مُحمّد اِلياس عطّار قادِري رَضَوي**

دامت برکاتهم العالیة



پښتو ترجمه:
مجلس تراجم
(دعوتِ اسلامي)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# د کتاب لوستلو دُعا

ديني کتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښې دا لاندي دُعا لولئ اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ څه چه لولئ هغه به مو ياد پاتې کيږي:

**اَللّٰهُمَّ افْتَحْ عَلَيْنَا حِكْمَتَكَ وَانْشُرْ عَلَيْنَا رَحْمَتَكَ يَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَام**

**ترجمه:** اے الله عَزَّوَجَلَّ په مونږه د عِلم او حِکمت دروازې برسيره [يعني بيرته] کړې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګۍ والا!

(مستطرف ج١ ص٤٠، دار الفکر بيروت)

طالبِ غمِ مدینہ بقیع ومغفرت

(اول او آخر کښې يو يو ځل دُرود شريف ولولئ)

د رسالي نوم: سمدستي ئي د ترور سره روغه وکړه

اول ځل: ..............

تعداد: ..............

ناشِر: مَکْتَبَةُ الْمَدِيْنَه عالمي مدني مرکز فيضانِ مدينه، بابُ المَدينه کراچي.

مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالې د چاپ کولو اجازت نشته

## کتاب اخستونکي توجّه وکړئ

که د کتاب په طباعت کښې څه ښکاره خامي وي يا پانړې کمې وي يا په بائنڈِنګ کښې مخکښې وروسته لګيدلي وي نو مَکْتَبَةُالْمَدِيْنَه ته رجوع وکړئ.

www.dawateislami.net

# سمدستي ئې د ترور سره روغه وکړه

شيخ طريقت اَميرِ اَهلِسُنّت، بانئ دعوتِ اِسلامي **حضرت علّامه مَولانا ابُو بِلال محمّد اِلياس عطّار قادِري رَضَوي** دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه دا رِساله "ہاتھوں ہاتھ پھوپھی سے صُلح کرلی" په اردو ژبه کښې ليکلې ده.

مجلسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالې په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب د ترجَمه کولو کوشش کړې دې. که چرې په دې ترجمه کښې څه غلطي يا کمې زياتې اوموموئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دې چه مجلس تراجِم ته خبر وکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پيشکش: مجلِسِ تَراجِمِ دعوتِ اِسلامي


برائے رابطہ:

عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران

پرانی سبزی منڈی، باب المَدینہ کراچی، پاکستان

**UAN:** ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 7213

**Email:** translation@dawateislami.net

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الۡمُرۡسَلِيۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ؕ

# سمدستي ئې د ترور سره روغه وکړه

شيطان که هر څومره ناراستي دروليږي خو تاسو دا رساله پوره ولولئ
اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالٰی تاسو ته به ډير زيات فائده مند معلومات حاصل شي.

## د دُرود شريف فضيلت
## (دصَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد فضيلت)

حضرتِ سَيِّدُنا ابُو المُظَفَّر مُحَمَّد بِن عبدُالله خَيّام سَمَرقَندي رَحۡمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه فرمائي: ما يوه ورځ لاره هيره کړه، ناڅاپه مې يو صاحِب وليدو، هغوئي راته اُووئيل: ”زما سره راځه.“ زه هغوئي سره روان شوم. زما گُمان شو چه دوئي حضرتِ سَيِّدُنا خِضَر عَلَيۡهِ السَّلَام دي. زما په تپوس کولو هغوئي خپل نوم خِضَر اوښودلو، هغوئي سره يو بل بُزرگ هُم وو، ما ترې د هغوئي د نوم تپوس وکړو نو وئې فرمائيل چه دا اِلياس (عَلَيۡهِ السَّلَام) دي. ما عرض وکړو: الله تعالٰی دِ په تاسو رَحمت اُوفرمائي، آيا تاسو دواړو حَضَراتو دحُضُور سَروَرِ کائنات، اَحمدِ مُجتَبیٰ، مُحَمَّدِ مُصطَفیٰ صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کړې دې؟ هغوئي اُوفرمائيل: آؤ، ما عرض وکړو: دحُضُور نَبِيِّ کريم رَءُوۡفٌ رَّحِيم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه اوريدلې يو اِرشاد را ته بيان کړئ چه زه ئې ستاسو نه رِوايت کړې شم. هغوئي اُوفرمائيل چه مونږه د رَسُولِ پاك صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه دا

فرمان اوریدلې دې [مفهُوم]: څوك چه په ما دُرُود شريف لوَلي د هغه زړه د نِفاق نه داسې پاك کړې شي څنګه چه په اوبو کپړه پاکه کړې شي. او څوك چه "صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد" ولوَلي نو په خپل ځان باندې د رَحمت اويا دروازې برسيره کړي.

(اَلْقَوْلُ الْبَدِيع ص۲۷۷، جَذْبُ الْقُلُوب ص۲۳۵)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# سمدستي ئې د ترور سره روغه وکړه

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! نن صبا خلق په وړه وړه خبره خپلوئ ختموي، لِهٰذا [د مسلمانانو] په خپل مينځ کښې د مَحَبَّت د ماحول قائميدو د خواهش په ښه نِيَّت او د نور ثواب ګټلو د پاره د خپلوانو سره د حُسنِ سُلُوك په باره کښې د نيکئ د دعوت مَدَني ګُلونه وړاندې کووم. حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ يو ځل د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حديثونه بيانول، په دغه دوران کښې ئې اُوفرمائيل: هر قاطِع رِحم (يعني خپلوي ماتوونکې) دِ زمونږه د مَحفِل نه پاځي. يو ځلمې پاځيدو او خپلې [د پلار د طرفه] ترور کره لاړو چه د هغې سره ئې د ډيرو کلونو زړه جګړه وه، چه کله دواړه د يو بل نه راضي شو نو هغه ځلمي ته ترور اُووئيل چه ته لاړ شه او د دې د سبب تپوس وکړه چه آخر داسې ولې وشو؟ (يعني د حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو

هُرَيره رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د اعلان څه حِکمت وو؟) ځلمې چه ورحاضر شو او تپوس ئې ترې وکړو نو حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ اُوفرمائيل چه ما د رَسُولِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه دا اوريدلي دي: ”په کوم قوم کښې چه قاطِعِ رِحم (يعني خپلوي ماتوونکې) وي، په هغه قوم باندې د الله تعالٰی رحمت نه نازليږي.“ (اَلزَّوَاجِرُ عَنِ اقْتِرافِ الْکَبائر ج۲ ص۱۵۳)

## په خوابنې او اِنګور کښې د روغې راز

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو وليده! ښځوانو مسلمانانو به د الله تعالٰی څومره ويره لرله! خوش نصيبه ځلمې ښځپله ورغلو او د الله تعالٰی د ويرې په سبب ئې خپلې ترور سره د صُلح ترکيب وکړو. ټولو ته پکار دي چه فِکر وکړي چه په خاندان کښې ئې د چا سره ورانه ده چه کله پوهه شئ نو بيا که څه شرعي عُذر نه وي نو فوراً د خفه خپلوانو سره د ”روغې جوړې“ ترکيب شروع کړئ. که سر ټيټول پکښې پيښ شي نو هُم بيشکه د الله عَزَّوَجَلَّ د رضا د پاره سر ټِيټ کړئ، اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی عِزَّت به مو نصيب شي. خوږ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: "مَنْ تَوَاضَعَ لِلّٰهِ رَفَعَهُ اللّٰهُ" يعني ”څوك چه د الله تعالٰی د پاره عاجزي کوي الله تعالٰی هغه ته اوچتوالې ورکوي.“ (شُعَبُ الْاِيمان ج٦ ص٢٧٦ حديث ٨١٤٠) خپلو کورونو او مُعاشره کښې د اَمن قائمولو د پاره د **دعوتِ اسلامي** د خوشبودار مَدَني ماحول سره تړون وکړئ او هره مياشت

کم از کم د درېٖ ورځو د پاره په **مَدَني قَافِله** کښې د سُنَّتو ډك سفر کوئ او د **مَدَني انعاماتو** مطابق ژوند تیروئ. ستاسو د ترغیب او تَحرِیص د پاره یو **مَدَنــي سپرلي** وړاندې کووم، چنانچه د **بابُ الْمدینه** کراچئ د یو اِسلامي ورور د بیان خُلاصه ده چه د ډیرې مودې راستې زما د ښځې او زما د مور یعني **د خواښې او اِنګور تَعَلُّقات** ډیر زیات خراب وو، آخر دا چه ښځه مې **خفه** شوه او لاړه د پلار کره کښیناستله. زه سخت پریشانه ووم او نه پوهیدم چه دا مسئله څنګه **حل** کړم په دې دوران کښې د د دعوتِ اسلامي د اِشاعتي اِدارې **مَکْتَبَۃُ الْمَدِینه** نه جاري شوي د مَدَنــي مُذاکَرې VCD [وي سي ډي] "***گھر امن کا گہوارہ کیسے بنے!*** [یعني کور د امن ځائ څنګه جوړ شي]" په لاس راغله. د دې موضوع مې چه ولیدله نو په ډیر اُمّید مې پخپله هُم وکتله او په خپله مور **مُحترمې** مې هُم وکتله او یوه VCD [وي سي ډي] مې خپلې سخرګنئ ته هُم ور واستوله. زما د والِده **مُحترمې** دا VCD دومره خوښه شوه چه دوه ځله ئې وکتله او [په دې خبره] زه حیران شوم چه ما ته ئې اُووئیل: "**راځه ځویه! چه ستا سخرګنئ کره لاړ شو.**" ما ته [په دې خبره] سکون **محسوس** شو چه کیدې شي کوم کار چه ما په ډیر زیات اِنفرادي کوشش ونکړې شو هغه دې VCD وکړو. زما سخرګنئ کره چه ورغلو نو زما مور

صاحِبې په ډېره مينه **مَحَبَّت** زما ښځه **راضي** کړه او بيرته ئې کور ته راوستله. بل طرف ته زما ښځې هُم **بهتر طرزِ عمل** اختيار کړو او کور ته د رارسيدو په دويمه ورځ ئې خپلې خواښې (يعني زما مور) ته اُووئيل چه مورې زما کوټه ډېره غټه ده او د کور نور کسان چه په کومه کوټه کښې اوسيږي هغه لږه وړه ده، تاسو زما کوټې واخلئ او زه به په هغه کوټه کښې اوسيدل اختيار کړم. اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ زمونږه کور چه مخکښې پکښې فِتنه او فساد وو، د دعوتِ اسلامي په بَرَکت **د امن ځائ** جوړ شو. (د مَدَني مُذاکرې دا VCD "گھر امن کا گہوارہ کیسے بنے!" د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه نه هَدِيَةً حاصليدې شي او د دعوتِ اسلامي په ويب سائټ www.dawateislami.net کتلې او اوريدلې هُم شي)

# د صِلهٔ رِحمي تعريف

د صِله معنیٰ ده: "اِيْصَالُ نَوْعٍ مِّنْ اَنْوَاعِ الْاِحْسَان" يعني د ښيګړو په قِسمونو کښې کومه ښيګړه او احسان کول. (اَلزَّوَاجِرُ ج۲، ص۱۵٦) او د رِحْم نه مُراد قَرابَت، خپلوي ده. (لِسانُ العَرَب ج۱ص۱٤٧٩) په "**بهارِ شريعت**" کښې دي: د **صِلهٔ رِحْم** معنیٰ: خپلوي جوړول دي يعني د خپلوانو سره نيکي او سلوك (يعني ښيګړه) کول. (بهارِ شريعت ج ۳، ص ۵۵۸)

د رضائے اِلٰهي د پاره د خپلوانو سره صِلهٔ رِحمي کول او د هغوئي په بد سُلوکۍ باندې هغوئي معاف کول يو عظيم اخلاقي صِفَت دې او د **الله** تعالیٰ په دربار کښې د دې غټ ثواب دې.

# د خپلوانو مالي او اخلاقي حُقوق ادا کړئ

په پينځلَّسمه سيپاره سُوْرَةُ بَنِیْٓ اِسْرَآءِيْل آيت ۲۶ کښې اللّٰه تَبَارَکَ وَتَعَالٰی ارشاد فرمائي: وَ اٰتِ ذَاالْقُرْبٰی حَقَّهٗ (پ۱۵، بَنِیْٓ اِسْرَآءِيْل: ۲۶) مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِيمان: او خپلوانو ته د هغوئي حق ورکړه.

صدرُ الافاضِل حضرتِ علّامه مولانا سيِّد محمّد نعيمُ الدِّين مُراد آبادي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه په "خَزائِنُ الْعِرفان" کښې د دې آيتِ کريمه لاندې ليکي. د هغوئي سره صِلهٔ رِحمي کوه او مَحَبَّت او ناسته ولاړه او خير خبر اخستل او په موقع مدد او حُسنِ مُعاشَرَت [ورسره کوه]. مسئله: او که هغه مَحارِم (يعني څوك داسې نزدې خپل وي چه که په هغوئي کښې يو نارينه او بل زنانه وګنړلې شي نو نِکاح ئې د هميشه د پاره حرامه وي لکه پلار، مور، ځوئ، لور، خور، تره، ترور [يعني د پلار خور او د مور خور] ماما، وراره، وريره، خورَيا، خورزه وغيره) کښې کوم يو وي او مُحتاجه شي نو د هغوئي خرڅ خوراك برداشت کول دا هُم د هغوئي حق دې او په صاحِبِ اِستِطاعَت [يعني وس لرونکي] خپلوان باندې لازِم دې.

(خَزائِنُ الْعِرفان، ص۵۳۰، مطبوعه مَکْتَبَةُ الْمَدِينه)

# د صِلهٔ رِحمي کولو لس فائدې

حضرتِ سَيِّدُنا فَقِيه اَبُواللَّيث سَمَرقَندي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: د صِلهٔ رِحمئ لس فائدې دي: ❁ د اللّٰه تعالٰی رضا حاصليږي ❁ د

خلقو د خوشحالۍ سبب ده ❁ فرښتې پرې خوشحاليږي ❁ د مسلمانانو له طرفه د هغه کس صِفَت کيږي ❁ شيطان پرې خفه کيږي ❁ عُمر ورسره زياتيږي ❁ په رِزق کښې ورسره بَرَکت پيدا کيږي ❁ وفات شوي آباء و اَجداد (يعني پلار، نيکونه) پرې خوشحاليږي ❁ په خپل مينځ کښې ورسره مَحَبَّت زياتيږي ❁ د وفات کيدو نه پس ئې په ثواب کښې اِضافه کيږي، ځکه چه خلق د هغه په حق کښې دُعائے خير کوي. (تَنبِيهُ الغَافِلِين ص۷۳)

## ماتول نه، جوړول او صِلۀ رِحمي کول پکار دي

الله تَبَارَكَ وَتَعَالٰى ارشاد فرمائي: وَ الَّذِيْنَ يَصِلُوْنَ مَآ اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖۤ اَنْ يُّوْصَلَ (پ۱۳، الرَّعد: ۲۱) مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِيمان: او هغوئي چه يو ځائ کوي هُغه چه الله ئې د يو ځائ کولو حُکم کړې دې.

صدرُ الافاضِل حضرتِ علّامه مولانا سيِّد محمّد نعيمُ الدِّين مُراد آبادي رَحۡمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه په "خَزائِنُ العِرفان" کښې د دې آيَتِ کريمه لاندې ليکي: يعني د الله په ټولو کتابونو او د هغه په ټولو رَسُولانو باندې ايمان راوړي او د بعضو د منلو او د بعضو په انکار کولو په هغوئي کښې تفريق نه کوي يا دا معنٰى ده چه: د قرابت دارو د حقونو رِعايت [يعني خيال] ساتي او خپلوي نه قطع کوي. په هُم دې کښې د رَسُولِ کريم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم قَرابَتونه او ايماني قَرابَتونه هُم داخل

دي، د ساداتو كِرامو اِحترام او د مسلمانانو سره مَحَبَّت او احسان او د هغوئي مدد او د هغوئي له طرفه مُدافَعَت او د هغوئي سره شَفقَت [يعني مهرباني] او سلام و دُعا او د مسلمانانو مريضانو عِيادَت [يعني پوښتنه] او د خپلو دوستانو، خادِمانو، ګاونډيانو (او) د سفر د ملګرو د حُقوقو رِعايت [يعني ادا كول] هُم په دې كښې داخِل دي.

(خَزائِنُ الْعِرفان ص٤٨٢ مطبوعه مَكْتَبَةُ الْمَدِينه)

## د بهترين انسان خُصُوصيات

نَبِيِّ كريم رَءُوْفٌ رَّحِيم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو ځل په مِنبر شريف تشريف فرما وو چه يو صحابي رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عرض وكړو: "يَارَسُولَ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خلقو كښې د ټولو نه ښه څوك دې؟" وئې فرمائيل: په خلقو كښې هغه كس د ټولو نه ښه دې څوك چه په كثرت سره د قُرآنِ كريم تلاوت كوي، زيات مُتَّقي وي، د ټولو نه زيات د نيكۍ حُكم وركوونكې او د بدۍ نه منع كوونكې وي او د ټولو نه زيات صِلهٔ رِحمي (يعني د خپلوانو سره ښه سُلوك) كوونكې وي. (مُسْنَدِ اِمام اَحمَد، ج١٠ ص٤٠٢ حديث ٢٧٥٠٤)

## تِلاوت، پرهيزګاري، د نيكۍ دعوت او صِلهٔ رِحمي

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! د ډير ډير ثواب حاصلولو په نِيَّت د بيان شوي حديث مبارك په رڼړا كښې څه "د نيكۍ د دعوت" وړاندې كولو سعادت حاصلووم. په دې رِوايت كښې د ټولو نه د ښه انسان څلور

خُصُوصِيات بيان كړې شوي دي: (۱) په كثرت سره تِلاوت (۲) زياته پرهيزګاري (۳)د ټولو نه زيات د نيكۍ دعوت وركول او د بدو نه منع كول او (٤) د خپلوانو سره حُسنِ سُلوك. واقعي دا څلور واړه نهايت ښه صِفات دي الله تعالیٰ دِ ئې رانصيب كړي. اٰمِين. د دې څلورو واړو فضائيل اوګورئ ﴿۱﴾ د حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دې چه خوږ نبي سُلطان، سردارِ دوجهان صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د قيامت په ورځ به قُرآن لوستونكي راشي نو قُرآن به عرض كوي: يا رب عَزَّوَجَلَّ! ده ته حُلّه (يعني د جَنَّت جامې) ور واغونده. نو هغه ته به د كَرامَت حُلّه (يعني دبزرګۍ جَنَّتي جامې) واغوستلې شي. بيا به قُرآن عرض كوي: يا رب عَزَّوَجَلَّ! په دې كښې اِضافه وكړه،" نو هغه ته به د كَرامَت تاج په سر كړې شي. بيا به قُرآن عرض كوي: "يا رب عَزَّوَجَلَّ! د ده نه راضي شه نو الله تعالیٰ به د هغه نه راضي شي. بيا به هغه قُرآن لوستونكي ته اُووئيل شي: قُرآن لوَله او د جَنَّت درجات طے كوه او په هر آيت به هغه ته يو نِعمَت وركولې كيږي. (سُنَن التِّرمِذِی،ج٤ ص٤١٩ حديث٢٩٢٤) ﴿۲﴾ پرهيزګارو ته په آخِرت كښې د كاميابۍ زيرې اورولې شوي دي چنانچه الله تَبَارَكَ وَتَعَالٰی اِرشاد فرمائي:

وَ الْاٰخِرَةُ عِنْدَ رَبِّكَ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿۳۵﴾ (پ۲۵،اَلزُّخرُف:۳۵) مفهوم ترجمهٔ كنزُالاِيمان:

او آخرت ستاسو د رب سره د پرهيزګارو د پاره دې. ﴿۳﴾ د حضرتِ سَيِّدُنا

**کَعْبُ الْاَحبار** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ اِرشاد دي: ”**جَنَّتُ الْفِردَوس** خاص د هغه کس د پاره دي څوك چه **اَمْرٌ بِالْمَعْرُوف وَنَهْیٌ عَنِ الْمُنْكَر** کوي.“ (يعني د نيکئ حُکم ورکوي او د بدئ نه منع کوي) (تَنبِيهُ الْمُغتَرِين ص ۲۳۶) ﴿٤﴾ فرمانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دي: د چا چه دا خوښه وي چه د هغه په عُمر او رِزق کښې اِضافه وکړې شي نو هغه ته پکار دي چه د خپل مور و پلار سره ښه سُلوك وکړي او د خپلو خپلوانو سره صِلهٔ رِحمي کوي.

(اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب ج۳ ص۲۱۷ حديث ۱۶)

## په عُمر او رِزق کښې د زياتيدو معنٰی

د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اِدارې **مَكتَبَةُ الْمَدِينه** چاپ شوي د ۱۱۹۷ صفحو کتاب ”**بهارِ شريعت**“ جِلد۳ صفحه ۵۶۰ کښې **صَدرُ الشَّرِيعه، بَدرُ الطَّرِيقه** حضرت عَلّامه مولانا مُفتي **مُحمد امجد علي اعظمي** رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: په حديث کښې راغلي دي چه د ”صِلهٔ رِحم سره عُمر زياتيږي او رِزق فراخه کيږي.“ بعضو عُلَماءُ دا حديثِ پاك په ظاهره حَمل کړي دي (يعني د حديث ظاهري معنٰی ئې مُراد اخستې ده) يعني دلته قضا مُعَلَّق مُراد ده ځکه چه قضا مُبرم نه شي وروسته کيدې.[1]

[1] د قضا نه دلته قِسمت مُراد دي. د قضا قِسمونه او د هغې په باره کښې د تفصيلاتو د پاره د **مَكتَبَةُ الْمَدِينه** چاپ شوي کتاب ”**بهارِ شريعت**“ جِلد اَوّل صفحه ۱٤ نه ۱۷ پورې ولولئ، خُصوصاً د **اَلمدينةُ الْعِلمِيهِ** د طرف نه ورکړې شوې حواشي بې مثاله او د ډيرو وسوسو علاج دي.

اِذَا جَآءَ اَجَلُهُمْ فَلَا یَسْتَاْخِرُوْنَ سَاعَةً وَّلَا یَسْتَقْدِمُوْنَ ﴿۴۹﴾ (پ١١، يونُس: ٤٩)

مفهوم ترجمهٔ كنزُالاِيمان: چه كله د هغوئي وعده راشي نو يو ساعت به نه وروسته شي او نه به ترې مخكښې شي.

او بعضو (عُلَماءِ كِرامو رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی) فرمائيلي دي چه د عُمر د زياتيدو مطلب دا دي چه د مرګ نه پس به هُم د هغه د پاره ثواب ليكلې كيږي لكه هغه چه اوس هُم ژوندې وي يا دا مُراد دي چه د مرګ نه پس هُم د هغه ذِكرِ خير په خلقو كښې پاتې وي. (رَدُّالْمُحتَار ج٩ ص٦٧٨)

**دوه فرامينِ مُصطَفٰی** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: ﴿١﴾ څوك چه په الله او په قيامت اِيمان لري هغه ته پكار دي چه صِلهٔ رِحمي كوي (بُخاری ج٤ ص١٣٦ حديث ٦١٣٨) ﴿٢﴾ د قيامت په ورځ به د الله تعالٰی د عرش په سورې كښې درې قِسمه خلق وي، (په هغوئي كښې يو دې) صِلهٔ رِحمي كوونكې. (اَلْفِردَوس بِمَأْثُورِ الْخطَاب ج٩، ص٩٩ حديث٢٥٢٦)

## اُمُّ المُؤمِنِين حضرتِ زَينَب او صِلهٔ رِحمي

اُمُّ المُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا فرمائی: ما د حضرتِ زَينَب رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا نه زياته ديندارہ، زياته پرهيزګاره، زياته رښتوني، زياته صِلهٔ رِحمي او زياته صَدَقه كوونكې يوه ښځه هُم نه ده ليدلې. (صحيح مُسلِم ص١٣٢٥ حديث٢٤٤٢)

# لس زره دِرهَمه ئې په خپلوانو تقسيم کړل

اَميرُ المُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ د اُمُّ المُؤمِنِين حضرتِ زَينَب رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہَا په خِدمت کښې لس زره دِرهِمه ور واستول نو هغوئي دا رقم په خپلو خپلوانو باندې تقسيم کړو. (اسد الغابة ج٧ ص١٤٠ مُلَخَّصاً)

# د خپلوانو سره تعلق پريښودلو نه ځان ساتئ

په قُرآنِ پاك کښې الله تَبَارَكَ وَتَعَالٰى اِرشاد فرمائي:

وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِىۡ تَسَآءَلُوۡنَ بِهٖ وَالۡاَرۡحَامَ ؕ (پ٤ :اَلنِّسآء١)

مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِيمان: او د الله نه وَيَريږئ، چه په نوم د هغه ئې غواړئ او د خپلوو لِـحاظ وساتئ.

د دې آيت نه لاندې په "تفسيرِ مظهرى" کښې دي: يعني تاسو د قَطعِ رِحمئ (يعني خپلوانو سره تعلق ماتولو) نه ځان وساتئ. (تفسيرِ مَظهرى ج٢ ص٣)

# قصداً قَطعِ رِحمي جائز ګڼړل کُفر دي

فرمانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: خپلوي ماتوونکي به جَنَّت ته نه ځي. (بُخارى ج٤ ص٩٧ حديث ٥٩٨٤) حضرتِ علامه علي قاري رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيۡه د دې حديثِ پاك نه لاندې ليکي: د دې نه مُراد دا دې چه څوك بغير د څه سبب او بغير د څه شُهبې او د قَطعِ رِحمي د حرام کيدو د عِلم

لرلو باوجود دا حلال او جائز ګڼړي هغه کافِر دې، هميشه به جَهنَّم کښې اوسيږي او کله به هُم جَنَّت ته نه ځي، يا دا مُراد دې چه د عذاب نه نَجات موندونکو سره به هُم نه ځي (يعني مخکښې به سزا خوري بيا به ځي). (مِرقاة ج۷ تحت الحديث۴۹۲۲)

په ''تَفۡهِيۡمُ الۡبُخَارِی'' کښې دي چه په دې کښې اِختِلاف نشته چه صِلۀ رِحمي واجِب ده او دا قطع [يعني پريښودل] کبِيره ګُناه ده. د صِلۀ رِحمۍ څه درجات دي، کم از کم درجه دا ده چه خفګان پريږدي او د سلام او خبرو په ذريعه صِله (يعني ښه سُلوك) کوي، د قُدرت [لرلو] او حاجت [لرلو] په اِختلاف د صِله (يعني د سُلوك) مختلِف حالتونه دي، په بعضې حال کښې صِلۀ رِحمي واجِب ده او په بعضې کښې مُستَحب ده، که په بعضو حالاتو کښې ئې صِله وکړه او په پوره شان ئې ونکړه نو دې ته قَطعِ رِحمي نه وائي. (تَفۡهِيۡمُ الۡبُخَارِی ج۹ ص۲۲۱)

[اوس] يوه معلوماتي فَتویٰ اوګورئ، فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه جِلد ۱۳، صفحه ۶۴۷ تا ۶۴۸ کښې دي:

## حقيقي ورور ته دا وئيل: ''ته زما ورور نه ئې'' څنګه دي؟

**سُوال:** که زيد په څه سازش په يوه غونډه کښې په اوچت آواز کَلِمۀ طَيِّبه ولولي او حقيقي ورور بَکر ته اُووائي چه ''ته زما ورور نه ئې''.

آیا په داسې صورت کښې په زَید باندې بَمُوجب شرع څه کَفّاره لازمه ده؟ که وي نو څه او څه قدر [یعني څومره]؟

**جواب:** که د هغه ورور د هغه سره څه معامَله د ورورولئ خلاف کړې وي کومه چه ورور د ورور سره نه کوي نو په هغه باندې په دې وينا کښې څه اِلزام نشته ځکه چه د دې نفي (یعني انکار) نه نفي حقيقت (یعني د حقيقت نه اِنکار) مُراد نه وي بلکه نفي ثَمره ده (یعني د ورور کیدو په وجه چه ښنکه سُلوك کول پکار وي هغسې سُلوك ئې نه وي کړې) او که داسې نه وي بلکه بې د شَرعي وجهې نه ئې داسې وئیلي وي نو د درې کبیرو مُرتَکِب شو: (۱) کِذبِ صَرِیح (یعني ښکاره دروغ) او (۲) قَطعِ رِحم (یعني خپلوي پريښودل) او (۳) اِیذائے مُسلِم [یعني مسلمان ته تکلیف ورکول]، [که داسې وي نو بیا] په هغه توبه فرض ده او د ورور نه بخښنه غوښتل لازِم. وَاللّٰہُ تَعَالٰی اَعْلَم.

## د خپلوۍ ماتوونکي په موجودګۍ کښې رَحمت نه نازليږي

په "طَبَرانِیْ" کښې د حضرتِ سَیِّدُنا اَعمَش رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہِ نه منقُول دي چه حضرتِ سَیِّدُنا عبدُالله اِبنِ مُسعُود رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ یو ځل د سحر په وخت کښې په مجلِس کښې تشریف فرما [یعني ناست] وو، هغوئي اُو فرمائیل: زه قاطِعِ رِحم (یعني خپلوي ماتوونکي) ته د الله قَسَم ورکووم چه هغه د دې نه ځائ نه پاڅي او لاړ شي چه مونږه د الله تعالیٰ نه د

بخښنې دُعا وكړو ځكه چه په قاطِعِ رِحم (يعني خپلوي ماتوونكي) باندې د آسمان دروازې بندې اوسي. (يعني كه هغه دلته موجود اوسي نو رحمت به نه نازليږي او زمونږه دُعا به نه قبليږي)

(اَلْمُعْجَمُ الْكَبِيْر ج۹ ص۱۵۸ حديث ۸۷۹۳)

## خفه خپلوانو سره صُلح وكړئ

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! څوك چه په لږه لږه خبره د خپلو خويندو، لونړو، تروريانو، ماماګانو، ترونو، وريرونو، خورئينو وغيره سره قَطعِ رِحمي كوي، د هغوئي د پاره په بيان كړي حديث كښې ډير ډير عِبرت دې. زما مَدَني عرض دې چه كه تاسو د يو خپلوان نه خفه ئې، نو اګر كه د هغه خپلوان قصور وي د صُلح [يعني روغې] د پاره ښځپله ورمخكښې شئ او ښځپله ورشئ او په فراخه تندي [يعني په مُسكا مُسكا] ورسره ملاقات وكړئ او تَعَلُّقات ورسره سم كړئ.

## قَطعِ رِحمي كوونكې د بخښنې نه محروم

**فرمانِ مُصطَفٰی** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د ګُل او زيارت په ورځ د الله تعالٰى په دربار كښې د خلقو اعمال پيش كيږي، نو الله تعالٰى په خپل مينځ كښې د عداوت [يعني دُښمنۍ] ساتونكو او قَطعِ رِحمي كوونكو نه علاوه د ټولو بخښنه كوي. (اَلْمُعْجَمُ الْكَبِيْر ج۱ ص۱۶۷ حديث ۴۰۹)

## د امانت او صِلهٔ رِحمئ په وينا [شِكايت] به عذاب وركول شي

**فرمانِ مُصطَفٰی** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: ”امانت او صِلهٔ رِحمي به وليږلي شي نو هغه به د پُل صِراط ښي او کڼ طرف ته ودريږي.“ (مُسلِم ص١٢٧حديث٣٢٩) **مشهور مُفَسِّر حَكِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د دې حديثِ پاك نه لاندې فرمائي: دا به د دې دواړو وصفونو ډير زيات تعظيم وي چه دا دواړه به د پُل صِراط ښي او کڼ طرف ته ودرولې شي د شفاعت او شِكايت د پاره، چه د دوئي په شفاعت به نـجات [يعني خلاصې] او د دوئي په شِكايت [يعني گيله] كولو به عذاب وركولې كيږي. د دې فرمانِ عاليشان نه معلومه شوه چه انسان دِ د امانتدارئ او د خپلوانو د حُقوقو ادائيگي ضرور اختيار كړي ځكه چه په دې دواړو كښې كوتاهي كول د سخت عذاب باعِث دي مګر د دوئي په شفاعت د دوزخ نه نجات دې او د دوئي په شِكايت په هغې [دوزخ] كښې غورزيدل دي. (مِراٰةُ المناجيح ج٧ ص٤٢٤)

## د تَعَلُّقاتو ماتولو سزا (حِكايت)

حضرتِ سَيِّدُنا فَقِيه ابُواللَّيث سَمَرقَندي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه په ”تَنبِيْهُ الْغَافِلِين“ كښې نقل كوي چه حضرتِ سَيِّدُنا يَـحيىٰ بِن سُلَيم رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي چه په مَكَّهٔ مُكَرَّمه كښې د خُراسان اوسيدونكـي يو نيك كس وو، خلقو به د هغه سره خپل امانتونه ساتل، يو كس د هغه

سره لس زره اشرفۍ امانت کېښودلې او د خپل يو ضرورت په وجه په سفر لاړو، چه کله هغه بېرته راغې نو خُراساني وفات شوې وو، د هغه د کور د کسانو نه ئې د خپل امانت په باره کښې تپوس وکړو: نو هغوئې اُووئيل چه مونږ ته معلومات نشته، چا چه امانت ورکړې وو هغه د مَکّې مُکَرَّمې د عُلَمَاءُ نه تپوس وکړو چه ما ته څه کول پکار دي؟ هغوئې اُووئيل چه مونږه اُمِيد لرو چه هغه خُراساني به جَنَّتي وي ته داسې وکړه چه نيمه شپه يا د دريمې حِصّې شپې تيريدو نه پس د زم زم کوهي خوا ته لاړ شه او هغه ته د هغه په نوم غږ [يعني آواز،] وکړه او تپوس ترې وکړه.“ هغه درې شپې هُم دغسې وکړل خو د هغه ځائ نه څه جواب رانغې، هغه بيا لاړو او عُلَمَائے کِرامو ته ئې اُووئيل، هغوئې 'اِنَّا لِلّٰهِ وَ اِنَّاۤ اِلَیْهِ رٰجِعُوْنَ ' ولوستو او وئې وئيل چه: ”مونږ دا انديښنه لرو چه شايد هغه جَنَّتي نه وي،“ ته يَمَن ته لاړ شه هلته بُرهُوت نومې يوه دره کښې يو کوهي دې، هلته لاړ شه او هُم دغسې آواز ورکړه، هغه هُم دغسې وکړل نو په وړومبي غږ ورته جواب راغې چه ما هغه په کور کښې په فلانکي ځائ کښې خخ کړې دي او ما د کور کسانو سره امانت نه دې ايښودې، زما ځوئ ته ورشه او هغه ځائ وکښنئ امانت به په لاس درشي. چنانچه هغه هُم داسې وکړل او مال ئې پيدا شو. [هغه سړې

وائي] ما ترې تپوس وکړوچه ته خو ډېر نيك سړې وې ته دلته [څنګه] راورسيدې؟ هغه اُووئيل چه زما څه خپلوان په خُراسان کښې وو او د هغوئي سره ما قَطعِ تَعَلُّق کړې وو (يعني خپلولي مې ورسره پريښودې وه) او په دې حالت کښې زما مرګ راغې، په دې سبب الله تعالیٰ ما ته دا سزا راکړه او دې مُقام ته ئې راوسولم.

(تَنبِيهُ الغَافِلِين ص٧٢، مُلَخَّصاً)

## د کومو خپلوانو سره صِله واجِب ده؟

د دعوتِ اسلامي د اِشاعتي اِدارې مَكْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوې د ۱۱۹٦ صفحو كتاب ”بهارِ شرِيعت“ جِلد۳ صفحه ۵۵۸ تا ۵۵۹ کښې دي:

د کومو خپلوانو سره چه صِلهٔ (رِحم) واجِب ده هغه څوك دي؟ بعضې عُلَماءُ فرمائيلي دي چه هغه ذُورِحُم مَحرم دي او بعضو فرمائيلي دي چه د دې نه مُراد [مُطلَقاً] ذُورِحُم دي که مَحرم وي او که نه. او ظاهر هُم دا دويم قول دې، په احاديثو کښې مُطلقاً (يعني بغير د څه قيد نه) د خپلوانو سره صِله (يعني د [ښه] سُلوك) کولو حُکم راځې، په قُرآنِ مجِيد کښې مُطلقاً (يعني بغير د څه قيد نه) ذَوِالْقُربٰى (يعني نزدې خپلوان) فرمائيلي شوي دي خو دا خبره ضرور ده چه ولې چه د خپلولئ مُختلف درجات دي (نو هُم دغسې) د صِلهٔ رِحم (يعني د خپلوانو سره د حُسنِ سُلوك) په دَرَجاتو کښې هُم تفاوُت (يعني فرق) وي. د مور او

پلار دَرَجه د ټولو نه زياته ده، د هغوئي نه پس د ذُو رِحم مَحرم، (يعني هغه خپلوان د کومو سره چه د نَسَبِي خپلولۍ په وجه نِکاح د هميشه د پاره حرامه وي) د هغوئي نه پس د بقيه خپلوانو عَلٰى قَدْرِ مَرَاتِب. (يعني په خپلوۍ کښې د نزديکت د ترتيب مُطابق) (رَدُّالْمُحْتَار ج۹ ص۶۷۸)

## د "ذُورِحْم مَحرم او "ذُورِحْم نه مُراد؟

**مشهور مُفَسِّر حَکِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د سُوْرَةُ الْبَقَرَه د آيت ۸۳ وَ بِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا وَّ ذِى الْقُرْبٰى "مَفهُوم ترجمهٔ کَنْزُالْاِيمان: او د مور او پلار سره ښيګړه وکړئ او د خپلوانو سره." نه لاندې په "تفسيرِ نعيمي" کښې ليکي: او قُرْبٰى په معنٰى د نزديکت ده يعني د خپلو نَسَبي خپلوانو سره احسان وکړئ، ولې چه د اَهلِ قَرابَت [يعني نَسَبي خپلوانو] خپلوي د مور او پلار په ذريعه وي او د هغوئي احسان هُم د مور او پلار په مُقابله کښې کم دې ځکه د هغوئي حق هُم د مور او پلار نه پس دې، په دې ځائ کښې هُم يو څو هدايتونه دي: وړومبې هدايت: ذِى الْقُرْبٰى هغه خلق دي د چا خپلوي چه د مور او پلار په ذريعه وي چه هغې ته "ذِى رِحم" هُم وائي، دا درې قِسمه دي: يو د پلار قَرابَت دار [يعني نَسَبِي خپلوان] لکه نيکه، نيا، تره، ترور وغيره او بل د مور د طرفه نيکه، نيا، ترور، ماما او اَخيانِي (يعني د چا چه پلار جُدا جُدا وي او مور ئې يوه وي داسې) خور او

وروو وغيره، دريم د دواړو قَرابَت دار لکه حقيقي وروو او خور. په دوئي کښې چه د چا سره خپلولي [خومره] مضبوطه وي، [په هغه حساب] د هغه حق مُقَدَّم [يعني ډير وي]. **دويم هِدايت:** [بيا] اَهلِ قَرابَت دوه قِسمه دي يو هغه د چا سره چه نِکاح حرامه ده، هغوئي ته ذِي رِحم مَحرم وائي، (يعني داسې خپلوان چه که په هغوئي کښې هر يو نارينه وګنړلې شي او بل زنانه وګنړلې شي نو نکاح به ئې د هميشه د پاره حرامه وي لکه پلار، مور، ځوئ، لُور، وروو، خور، تره، د پلار د طرفه ترور، ماما، د مور د طرفه ترور، خورئې، خورزه [وراره، وريره] وغيره) د ضرورت په وخت کښې د دوئي خِدمت کول فرض دي، نه کوونکې به ګنهګار وي. دويم هغه د چا سره چه نکاح حلاله ده لکه د ترور، ماما او تره اولاد، د دوئي سره احسان او [نيك] سُلوك کول سُنَّت مُؤَکَّده دي او ډير ثواب خو د هر يو قَرابَت دار بلکه د ټولو مسلمانانو سره د ښو اخلاقو سلوك کول ضروري دي او هغوئي ته تکليف رَسَول حرام دي. (تفسيرِ عزيزی) **دريم هِدايت:** د لرې سخرګنئ خپلوان ذِي رِحم نه دي، خو په هغوئي کښې ځيني مَحرَم دي لکه خوابښې او د پئيو مور، ځيني مَحرَم هُم نه دي، د هغوئي هُم حُقوق دي تر دې چه د ګاونډي هُم حقونه دي خو دا خلق په دې آيت کښې داخل نه دي ځکه چه دلته رِحمي [يعني نَسَبِي] او نزدې خپلوان مُراد دي. (تفسيرِ نعيمی ج۱، ص ٤٤٧)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د ”حُسنِ سُلوك د ووه حُروفو په نِسبت د صِلۀ رِحمیٔ ۷ مَدَنــي ګلونه

د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اِدارې **مَکْتَبَةُ الْمَدِینه** چاپ شوي د ۱۱۹۷ صفحو کتاب ”**بهارشریعت**“ جلد۳ صفحه ۵۵۹ تا ۵۶۰ کښې د ”حُسنِ سُلوك“ د ووه حُروفو په نِسبت ۷ مَدَنــي ګلونه قبول کړئ:

## ﴿۱﴾ د کوم خپلوان سره ښنګه سلوك پكار دې؟

په اَحادِيثو کښې مُطلقاً (يعني بغير د څه قيد نه) د خپلوانو سره د صِله (يعني [ښه] سُلوك) کولو حُکم راغلې دې، په قُرآنِ مجيد کښې مُطلقاً (يعني بغير د څه قيد نه) **ذَوِی الْقُرْبٰی** (يعني قرابت دار) فرمائيلې شوي دي خو دا خبره ضرور ده ولې چه په خپلولۍ کښې مختلف دَرَجات دي (هُم دغسې) صِلۀ رِحم (يعني د خپلوانو سره د حُسنِ سُلوك) په درجاتو کښې هُم تفاوُت (يعني فرق) وي. د مور او پلار مرتبه د ټولو نه زياته ده، د هغوئي نه پس د ذُو رِحم، (يعني هغه خپلوان د چا سره چه د نَسَبي خپلوئ په وجه نکاح د هميشه د پاره حرامه وي) د هغوئي نه پس د باقي نَسَبي خپلوانو **عَلٰی قَدرِ مَراتِب**. (يعني په نسبي خپلوئ کښې د نزديکت د ترتيب مطابق

(رَدُّالْمُحْتَار ج۹ ص۶۷۸)

## ﴿۲﴾ خپلوان سره د سُلوك صورتونه

د صِلۀ رِحمي (يعني د خپلوانو سره د سُلوك) مختلف صورتونه دي، هغوئي ته هَديَه او تُحفه ورکول او که هغوئي ته څه خبره کښې ستاسو اِعانَت (يعني اِمداد) پکار وي نو په هغه کار کښې د هغوئي مدد کول، هغوئي ته سلام کول، د هغوئي ملاقات ته تلل، د هغوئي سره ناسته ولاړه، د هغوئي سره خبرې اترې کول، د هغوئي سره د اخلاقو او مهربانئ سلوك کول (دُرر، ج۱، ص۳۲۳)

## ﴿۳﴾ که په پرديس کښې وي نو خط دِ ورليږي

که دا کس په پرديس کښې وي نو خپلوانو ته دِ خط ليږي، د هغوئي سره دِ خط او کتابت جاري ساتي چه بې تعلقي پيدا نه شي او که کيدې شي نو وطن ته دِ راشي او د خپلوانو سره دِ تعلقات تازه کړي، په داسې کولو به په محبَّت کښې اِضافه کيږي (رَدُّالْمُحْتَار ج۹، ص۶۷۸) (د فون يا اِنټرنيټ په ذريعه هم د رابطې ترکيب فائده مند دې)

## ﴿٤﴾ که پرديس کښې وي، مور و پلار ئې رابلي نو راځي به

دا په پرديس کښې دې او مور و پلار ئې رابلي نو ضرور به راځي، خط ليکل کافي نه دي. هُم دغسې که مور و پلار د هغه د خِدمت حاجت لري نو را دِ شي او د هغوئي خِدمت دِ وکړي، پلار نه پس د نيکه او مشر ورور مرتبه ده ځکه چه مشر ورور د پلار په

ځائ وي، مشره خور او [د مور طرفه ترور] د مور په ځائ دي، بعضې عُلَماؤ تره ته د پلار په مِثل وئيلې دي او د دې حديث: "عَمُّ الرَّجُلِ صِنْوُاَبِيْهِ" (يعني د سړي تره د پلار په مِثل وي) نه هُم دا مُستَفاد دي (يعني هُم دا نتيجه ترې اُوځي). د دوئي نه علاوه نورو ته خط ليږل يا هَدِيّه (يعني تُحفه) ليږل كِفايت كوي. (رَدُّالْمُحْتَار ج۹ ص۶۷۸)

## ﴿۵﴾ د كوم كوم خپلوان سره كله مُلاقات كول پكار دي؟

د خپلوانو سره دِ په وقفه وقفه ملاقات كوي يعني كه يوه ورځ ملاقات ته ورشي نو بله ورځ دِ نه ورځي وَعَلٰى هٰذَا الْقِيَاس (يعني هم د دې نه دِ اندازه واخلي) ځكه چه د دې سره مَحَبّت او اُلفت زياتيږي، بلكه اَقرِبا (يعني نزدې خپلوانو) سره دِ جُمعه په جُمعه ملاقات كوي يا په مياشت كښې يو ځل، او ټوله قبيله او خاندان دِ په اِتِّفاق اوسيږي، چه كله هغوئي په حق وي نو د نورو سره دِ مقابَله كوي او په حق خبره كښې دِ ټول په اِتِّفاق كار كوي. (دُرَر، ج۱ ص۳۲۳)

## ﴿۶﴾ كه خپلوان څه حاجت وړاندې كړي نو رَدّ كول ګناه ده

چه يو نِزدې خپل څه حاجت وړاندې كړي نو د هغه حاجت دِ پوره كوي، د هغه حاجت رَدّ كول قطعِ رِحم (يعني خپلوي ماتول) دي. (اَيضاً) (ياد ساتئ! صِلهٔ رِحمي كول واجِب دي او قطعِ رِحمي كول حرام او جَهَنّم ته بوتلونكي كار دي)

## ﴿۷﴾ صِلهٔ رِحمي دا ده چه بل تَعَلُّق پرېږدي او ته ئې جوړوې

صِلهٔ رِحمي (يعني د خپلوانو سره ښه سُلوك) صِرف دا نه دې چه كه هغه ښه سلوك كوي نو ته هم ښه سلوك كوې، داسې كول خو په حقيقت كښې مُكافاة يعني د بدل كار دې يعني چه هغه ستا كره څه څيز راوليږو نو تا د هغه كره ور وليږو، هغه تاسو كره راغې ته د هغه كره ورَغلې. په حقيقت كښې **صِلهٔ رِحمي** (يعني د خپلوانو سره ښه سُلوك) دا دې چه هغه تَعَلُّق پرېږدي او ته ئې جوړوې، هغه ستا نه جُدا كيدل غواړي، لاپروائي كوي او ته د هغه سره د خپلوئ د حقونو خيال او لِحاظ ساتې. (رَدُّالمُحتار ج۹ ص۶۷۸)

## د حُسنِ ظَن [يعني ښه گُمان] ساتلو طريقه

**خوږو خوږو اسلامي وروڼړو!** ذِكر كړې شوې ووه واړه **مَدَني گلونه** د ډيرې توجُّه وړ دي، بِالخصوص ووم **مَدَني گل** چه په هغې كښې د "بدل" ذكر دې د دې په باره كښې عرض دې چه نن صبا عام طور هم داسې "د بدل كار" كيږي. كه يو خپل هغه ته د واده دعوت وركوي نو دا هم هغه ته دعوت وركوي، كه هغه دعوت ورنكړي نو دا ئې هم نه وركوي. كه هغه يو خپل ده ته د ډيرو كسانو دعوت وركړو او دې بل بيا د كمو كسانو دعوت وركړو نو په دې باندې هغې وروميې ډير

زيات خفګان ښکاره کوي او اعتراضونه او غيبتونه کوي. هم دغسې که يو خپل د ده په غم ښادئ کښې شريك نه شي نو دې هم د هغه په غم ښادئ کښې نه شريك کيږي او دغسې د دواړو په مينځ کښې جُدائي نوره هم زياته شي. حالانکه که څوك زمونږه په غم ښادئ کښې نه وي شريك شوې نو د هغه په باره کښې د نيك ګُمان ساتلو ډيرې لارې وتلې شي. مَثلاً هغه نه راتلونکې به بيمار شوې وي، د هغه نه به هير شوي وي، څه ضروري کار به ئې پيښ شوې وي، يا څه سخته مجبوري به ئې وي چه د هغې ښکاره کول به هغه ته ګران وي وغيره. که هغه د خپلې غير حاضرئ سبب ښکاره کړي يا نه، مونږ ته د ثواب او د جنّت لاره هوارَولو د پاره نيك ګُمان ساتل پکار دي.

چنانچه **فرمانِ مصطفی** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دې: **حُسْنُ الظَّنِّ مِنْ حُسْنِ الْعِبَادَةِ**

يعني ښه ګُمان ښه عِبادت دې. (ابو داؤد ج٤ ص٣٨٨ حديث٤٩٩٣)

مشهور مُفَسِّر حَکِيمُ الْاُمَّت حضرت مُفتي **احمد يار خان** رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه د دې حديثِ پاك مُختلف مطلبونه ليکي: يعني د مسلمانانو په باره کښې ښه ګمان کول، د هغوئي په باره کښې **بدګماني** نه کول دا هم په ښو عبادتونو کښې يو **عِبادت** دې. (مِراٰةُ المَناجِيح ج٦ ص٦٢١)

## د جَنّت مَحَل به هغه ته ورکول شي څوك چه....

فرض کړئ چه زمونږه يو خپل د سُستئ په سبَب يا په څه بَلَه وجه قصداً زمونږ کره رانغلو يا ئي مونږه خپل دعوت ته ونه بَلَلُو بلکه که هغه زمونږ سره ښکاره بدسُلوکي هم وکړه بيا هم مونږ ته حوصله غتېه ساتل پکار دي او تَعَلُّقات برقرار ساتَل پکار دي، د **حضرت** سَيِّدُنا اُبَئِ بِن کَعب رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دي چه د مديني د سردار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دي: د چا چه دا خوښه وي چه د هغه د پاره (په جَنّت کښې) مَحَل جوړ کړې شي او د هغه دَرَجات اوچت کړې شي، هغه ته پکار دي چه څوك په هغه ظلم وکړي دا هغه مُعاف کړي او څوك چه هغه محروم کړي [يعني څه څيز يا دعوت وغيره ور نکړي] دي ئي هغه ته ورکړي او څوك چه د هغه سره تعَلُّق پريږدي دي د هغه سره تعَلُّق جوړ کړي. (اَلْمُستَدرَك لِلحاكِم ج۳ ص۱۲ حديث۳۲۱۵)

## دُښمني پتپوونکو خپلوانو ته صدقه ورکول ډېر زيات غوره دي

بهرحال که څوك زمونږ سره ښه سُلوك کوي او که نه، مونږ ته ښه سلوك کول جاري ساتل پکار دي. د ”مُسنَدِاِمام اَحمد“ په حدِيثِ پاك کښې دي: اِنَّ اَفْضَلَ الصَّدَقَةِ اَلصَّدَقَةُ عَلٰی ذِی الرَّحِمِ الْکَاشِح بيشکه د ټولو نه زياته غوره صَدَقه هغه ده کومه چه دُښمني پټوونکي [يعني پټه ساتلو والا] خپلوانو باندې وکړې شي. (مُسنَدِ اِمام اَحمد ج۹ ص۱۳۸ حديث۲۳۵۸۹)

# د خپلوان نه چه کله سخت غم ورپيښ شو

**اميرُ الْمُؤمِنِين** حضرت سَيِّدُنا **ابُوبکر صِدِّيق** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ ته خپل د ترور ځوئ غريب او بې وسه، مهاجِر بَدري صحابي حضرتِ سَيِّدُنا مِسطَح رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ نه سخت خفګان ورسيدو او دوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ به [د دې نه مخکښې] د هغوئي [يعني د حضرتِ سَيِّدُنا مِسطَح رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ] خرچ برداشت کولو هغه داسې چه هغوئ د سَيِّدُنا ابُوبکر صِدِّيق رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ په ګرانه لُور يعني اُمُّ المُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدَتُنا عائِشه صِدِّيقه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہَا باندې د تُهمت لګوونکو سره مُوَافَقَت [يعني ملګرتيا] کړې وه. په دې وجه هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ د خرچ نه ورکولو قسم وخوړلو. په دې باندې د سيپاره ۱۸ سُورَةُالنُّور آيت ۲۲ نازِل شو. هغه آيتِ مُبارکه دا دې:

وَ لَا يَاْتَلِ اُولُوا الْفَضْلِ مِنْكُمْ وَ السَّعَةِ اَنْ يُّؤْتُوْۤا اُولِي الْقُرْبٰى وَ الْمَسٰكِيْنَ وَ الْمُهٰجِرِيْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۖ وَ لْيَعْفُوْا وَ لْيَصْفَحُوْا ؕ اَلَا تُحِبُّوْنَ اَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَكُمْ ؕ وَ اللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۲۲﴾

مفهوم ترجمهٔ کنزُالایمان: او قسم دِ نه خوري هغه خوك چه په تاسو کښې فَضِيلت لرونکي او وَس لرونکي دي خپلوانو او مِسکِينانو او د **الله** په لار کښې هِجرت کوونکو ته د ورکړې نه، او پکار ده چه مُعاف ئې کړي او له خبرې تير شي آيا تاسو دا نه خوښوئ چه **الله** مو وبخښي او **الله** بخښونکي مهربانه دې.

چه کله زمونږه خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا آيت ولوستلو نو حضرت سَيِّدُنا ابُوبكر صِدِّيق رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اُووئيل: بيشكه زه غواړم چه **الله** (تعالیٰ) زما بخښنه وکړي او ما به چه د مِسطَح (رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ) سره کوم سُلوك کولو هغه به کله هم نه بندووم چنانچه هغوئي (رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ) هغه (مالي اِمداد) جاري کړو. د دې آيت نه معلومه شوه چه څوك د څه خبرې قسم اُوخوري بيا ورته معلومه شي چه د هغې کول غوره دي نو پکار ده چه هغه کار وکړي او **د قسم کَفَّاره** ادا کړي، په صحيح حديث کښې هم داسې راغلي دي. نور فرمائي: د دې آيت نه د حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ فضِيلت ثابت شو، د دې نه د هغوئي د شان او مرتبې اوچت والي معلومېږي چه **الله** تعالیٰ هغوئي (رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ) ته (په آيتِ قُرآني کښې) اُولُوالفَضل (يعني فضيلت والا) اُوفرمائيلو. (خَزائِنُ العِرفان ص ٥٦٣) **د الله تعالیٰ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.**

اٰمِين بِجَاهِ النّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

بیاں ہو کس زباں سے مرتبہ صدّیقِ اکبر کا ہے یارِ غار محبوبِ خدا صدّیقِ اکبر کا

مقامِ خوابِ راحت چَین سے آرام کرنے کو
بنا پہلوئے محبوبِ خدا صدّیقِ اکبر کا (ذوقِ نعت)

څوك بيانولې شي مرتبه د صِدِّيق اکبر يارِ غار دې مَحبوبِ خُدا د صِدِّيق اکبر
مقام جوړ شو د سکون او د آرام د خوب دپاره په څنګ کښې د محبوبِ خُدا د صِدِّيق اکبر

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

# تنګ دستئ نه د بچ کيدو
# نُسخه او د جَنَّت خزانه

## دوه فرامين مُصطَفىٰ صلی اللہ تعالٰی علیہ واٰلہٖ وسلّم

﴿۱﴾ د يو کور کسان هُم داسې نشته چه خپل مينځ کښې صِلهٔ رِحمي (يعني د خپلوانو سره ښه سُلوک) کوي بيا مُحتاجه (يعني تنګ دسته) شي (الاحسان بترتيب صحيح ابن حبان ج۱ ص۳۳۳ حديث۴۴۱)

﴿۲﴾ څلور څيزونه د جَنَّت د خزانو نه دي: صَدَقه پټه ورکول، مُصيبت پټول، صِلهٔ رِحمي کول او لَا حَوۡلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰه ويـل. (تاريخ بغداد ج۳ ص۱۰۱)


فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ الـمدينه (کراچئ)

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 7213

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net